واحد فقیري ۲۰۱۶/۱۱/۱۴

# خلیلزاد، بن، او ظاهر شاه
# د خلیلزاد د «استازي» کتاب کره کتنه

ښاغلی زلمی خلیلزاد و معرفي کولو ته ضرورت نه لري، ځکه اکثره افغانان خلیلزاد پیژني او د هغه له نامه او کارونو سره اشنا دي. په افغانانو کي د خلیلزاد شهرت او نفوذ هله لا زیات سو، کله چي په ۲۰۰۱ کي امریکا افغانستان اشغال کړ، او د افغانستان په سیاسي امورو کي مستقیما دخیله سوه. پدي وخت کي، خلیلزاد د جمهورریس بش خاص استازی وو، او په امریکایي او افغاني مطبوعاتو کي د « واشنګتن د وایسرای» په نامه مشهوره وو.
د خلیلزاد د «استازي» کتاب د هغه د ژوند، کارونو، او افکارو په هکله یو ګټور کتاب دی، او د افغانستان د معاصر تاریخ یو مهم او له عبرته ډک فصل هم ګڼل کېدلای سي. البته دا باید زیاته سي چي د نورو افغانانو د خاطراتو برعکس، خلیلزاد پخپل کتاب کي د ځان زیات او بي حده صفت نه دی کړی، بلکي په افغانستان کي ئی د خپل ژوند او کورنی په باب رشتین معلومات وړاندي کړي دي. خلیلزاد د افغانستان په مینځنی طبقي پوري اړه لري، او هیڅکله یي پخپل کتاب کي د خپل کورنی د ثروت او نفوذ په باب لاپي شاپي ندي ویلي. بلکي په ځینو ځایونو کي د خپلي کورني د ژوند په باب دونه صادق دی چي تصور ئي چندان نه سي کیدلای.
کله چي په ۱۹۶۶ کي خلیلزاد د لومړی ځل لپاره په ټکنده ځواني کي امریکا ته د تحصیل لپاره ځي، د افغانستان بدوي حالت هغه نا ارامه کوي، او دا سوال ورته پیدا کیږي چي ولي افغانستان د نوري دنیا په تناسب دونه وروسته پاتي او خوار دی؟ د خلیلزاد همدا فکري صداقت په زیاترو خارج دیده افغانانو کي نسته، او همدا یو علت دی چي افغانان عموما د خپل ژوند په باب باتي وهي او د ځان او جهان د غولولو بېځایه هڅه کوي.
خلیلزاد پخپل کتاب کي لیکي: زما پلار یو پاک او متدین شخص وو، خو هغه سخت قهرجن سړی هم وو. د معمول سره سم، زما پلار د کور سودا کوله. یوه ورځ هغه څه رومیان له بازاره راوړل. زما مور د رومیانو له کیفیت څخه ناخوښه وه. هغې زما پلار ته وویل: دا رومیان سم ندي. پلار مي په جواب کي ورته وویل: په بازار کي دا تر ټولو ښه رومیان ول. خو زما مور یو رومی راپورته کړ، او پزي ته یي نژدې ونیو، او پزه یي تروه کړه او وې وویل: دا خو وراسته هم دي. زما د مور انتقادونو عموما زما پلار په قهروی، او هغه به په قهر له کوره ووت. زما د مور دا عادت زما خوښ نه وو، او نه یي هم د حالاتو د ښه کولو سره مرسته کوله. مګر زما مور همدا کار تل کاوه. زما د مور دا عادت ما ته دا را زده کړل چي باید پر خلګو باندي انتقادونه و نه سي، بلکي خلګ باید بل ډول مدیریت سي( مخ ۱۷). همدا درس ما عموما د خارجي مشرانو سره په مذاکراتو کي عملي کړی دی، او تل مي ښه نتایج ترلاسه کړي دي.
پاچا، لویه جرګه، بن:
په افغان مطبوعاتو کي د بن د کانفرانس د زیانونو په باب ډیر څه لیکل سوي دي، خو دلته به یوازي په بن او لویه جرګه کي د ظاهر شاه پر نقش باندي تمرکز وسي، ځکه همدا مسله په مختلفو شکلونو بیان سوی ده، او خلیلزاد پخپل کتاب کي پدې باره کي په کافي اندازه معلومات برابر کړي دي، او د ظاهر خان سره ئي خپل روابط په تفصیل سره تشریح کړي دي. په افغانانو کي، په تیره بیا په سلطنت پالو افغانانو کي، دا خبره ډیره مشهوره ده چي خلیلزاد د پاچا د رامخته کیدو مخه ونیوله، او پر ځای ئی ښاغلی حامد کرزی غوره کړ، ځکه حامد کرزی د امریکا سړی وو. هغوی پدې برخه کي د خلیلزاد نقش سخت غندي. اما خلیلزاد پخپل کتاب کي تل د ظاهر شاه صفت کوي.
هغه یو مهربان او رحیم پاچا ښیي، اما دلته او هلته د ظاهر خان له ذاتي ټمبلي څخه سر ټکوي.
خلیلزاد لیکي: کله چي شورویانو د افغانستان څخه د خپلو قواوو د ایستلو فیصله وکړه، ما د لویي جرګې د راغونډولو مفکوره د امریکایي مامورینو سره مطرح کړه. ما ته وظیفه راکړه سوه چي روم ته سفر وکړم، او د ظاهر شاه سره وګورم. کله چي ما ظاهر خان په روم کي ملاقات کړ، که څه هم هغه ډیر مودب او باوقاره سړی وو، خو د عمل سړی نه وو. ظاهر شاه د سختو او اصلي موضوع پر ځای پر جزییاتو او عادي مسایلو باندي ږغېدی. زموږ پدې ملاقات کي، ظاهر شاه نه غوښتل چي د انتقالي دورې مسولیت ومني. لدې مجلس څخه زما


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

درک دا وو چي ظاهر شاه کولای سي چي د يو سمبوليک مشر په څير نقش ولوبوي، مګر د اجراييه مسوليت لپاره جوړ شخص نه وو (مخ ۶۴).
خليلزاد بل ځای کاږي: د ۱۹۹۹ په دوبي کي، کله چي د کلنټن اداري غوښتل چي افغانان د طالبانو پر ضد راوپاروي، زه يو پلا بيا روم ته ولاړم. ما دا ځل بيا ظاهر شاه تشويق کړ چي د يوه «پټره ګر» رول ولوبوي، ځکه هغه وخت افغانستان يو مات لوښي ته ورته وو. مګر پدې ملاقات کي هم ظاهر خان نېته کوله، او هيڅ راز مسوليت ئي نه مانه. ظاهر شاه ما ته وويل: ايا دا به ښه نه وي چي موږ څه صبر وکړو؟ خليلزاد په جواب کي ورته وايي: که چيري تاسو اقدام و نه کړئ، د امريکا حکومت به تاسو جدي و نه نيسي. مګر ظاهر شاه نه راضي کيدی، او دېته ئي ترجيح ورکوله چي په ايټاليا کي خوندوره قهوه وڅښي، او قيمتي کالي واغوندي. خليلزاد کاږي: د ظاهر خان همدې بې علاقه ګي زه سخت په قهر کړم، او ظاهر شاه ته مي وويل: «څرنګه تاسو ته د شپې خوب درځي، حال دا چي ستاسو ملت په يوه داسي حالت کي ژوند کوي؟ (مخ ۸۸)».
خليلزاد ليکي: کله چي بالاخره په ۱۹۹۹ کي په فرانکفورټ کي د افغانانو کانفرانس جوړ سو، ظاهر خان پخپلي وينا کي وويل: زه د خپل ځان لپاره هيڅ مقام نه غواړم. هغه زياته کړه چي زما د ګډون اصلي عامل دا دی چي غواړم دا کانفرانس کاميابه سي (مخ ۸۹).
کله چي په ۲۰۰۱ کي امريکا افغانستان اشغال کړ، او د بن کانفرانس جوړ سو، زه يو ځل بيا روم ته ولاړم او هلته مي د ظاهر خان سره وکتل. هغه د پخوا په شان يو ځل بيا ما ته وويل چي د اجراييه مقام د نيولو خيال نه لري، او يوازي غواړي چي د يوه سپين ږيري مشر په توګه عمل وکړي، ځکه د هغه جګ عمر او صحت ده ته د دې اجازه نه ورکوي چي د حکومت مشر سي (مخ ۱۲۲).
کله چي د بن په کانفرانس کي عبدالستار سيرت نهه رايي او حامد کرزي دوې رايي وګټلې، د شمال ايتلاف هيات ماته رجوع وکړه، او يونس قانوني راته  وويل چي په هر صورت بايد د سيرت مخه ونيول سي. هغوی ويل چي نه به رباني و سيرت ته تېر سي، او نه به هم زموږ قومندانان د سيرت صلاحيت ومني، ځکه هغه يو اوزبک دی او په خلګو کي هيڅ نفوذ نه لري. قانوني وويل سيرت زما اخښي دی، او زه نه سم کولای چي په ډاګه د هغه مخالفت وکړم. کله چي زه لدې مشکل سره مخامخ سوم، ما ظاهرشاه ته ټيلفون وکړ، او هغه ته مي د سيرت د مشرتوب د مشکلاتو په باب معلومات ورکړل. ظاهر شاه په جواب کي راته وويل: سيرت اصلا زما انتخاب هم ندی. ظاهر شاه زياته کړه: بلي، د روم هيات ببخښايه ټينګار کوي. ظاهر خان راته وويل چي دی به د دوی سره خبري وکړي. هغه زياته کړه چي د روم په هيات کي زما اصلي استازی زما لمسی مصطفی دی. ظاهر شاه خپلو ملګرو ته ټيلفونونه وکړل، او بالاخره ټولو پر حامد کرزي باندي موافقه وکړه ( مخونه ۱۲۲-۱۲۴).
لويه جرګه او ظاهر شاه:
په افغانانو او په تېره بيا په سلطنت پالو افغانانو کي، دا خبره ډېره مشهوره ده چي خليلزاد د اظطراري لويي جرګي په جريان کي د ظاهر شاه پر ضد کودتا وکړه، او هغه ئي مجبوره کړ چي له خپلي کانديدي څخه تير سي. خو خليلزاد دا تور ردوي، او د لويي جرګي د انتخاباتو جريان داسي بيانوي.
خليلزاد کاږي: د لويي جرګي په جريان کي حامد کرزی د مصطفی ظاهر د نقش په اړه اندېښمن وو، او کرزي ما ته وويل چي دا موضوع له ظاهر شاه سره مطرح کړم. ما د مصطفی ظاهر سره خبري وکړي، او ورته و مي ويل که چيري همکاري وکړي، حامد کرزی به هغه ته يو ښه چرب سفارت ور کړي. مصطفی ظاهر موافقه وکړه، او وروسته په ايټاليا کي د افغانستان سفير سو (مخ ۱۴۲).
خليلزاد ليکي: د اظطراري لويي جرګي په جريان کي، د روم ډلي يو ځل بيا وراني پيل کړه. جنرال ولي يو وار بيا د ظاهر شاه لپاره کمپين شروع کړ چي بايد  پاچا د حکومت مشري تر لاسه کړي. د روم د ډلي دا کار هم حامد کرزی او هم د شمال ايتلاف مقتدر خلک سخت په قهر کړل. مارشال فهيم د ظاهر شاه او پلويانو پر ضد د نظامي عملياتو خبره کوله، او په ښار کي يې خپل مسلح خلک رااېستلي ول. حامد کرزی هم د جنرال ولي لدې اقدام څخه سخت په قهر وو. کله چي ما کرزی ملاقات کړ، هغه راته وويل چي «خيانت» ورسره سوی دی. هغه د پاچا پر ضد خبري کولی. ما هغه ته وويل: ګوره، پام کوه چي بيا هيڅکله د ظاهر شاه پر ضد باندي د نورو خلګو په مخ کي انتقاد و نه کړې، ځکه ته د روم د ډلي سرې يې. ما کرزي ته وويل: زه باور نه لرم چي ظاهر شاه دي وغواړي چي د انتقالي دورې مشري پر غاړه واخلي. زما ګومان دا دی چي د ظاهر خان کورنی د هغه له نامه څخه استفاده کوي، او غواړي چي نور امتيازات او پوستونه ترلاسه کړي (مخ ۱۴۳).


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

خلیلزاد کاږي: په سبا مي د ظاهر خان سره د لیدو وعده درلوده. زموږ د ملاقات وخت د ورځې ۱۱:۰۰ بجې وې. کله چي زه ارگ ته ولاړم، زه ئې راسا د ظاهر خان د خوب اطاق ته بوتلم. ظاهر شاه نوی له خوبه راپاڅېدلی وو، د خوب جامې ئې اغوستې وې، او پر خپل ستر او شاهانه کټ باندي ناست وو. ما و ظاهر شاه ته داسي وویل: اعلیحضرته، څه کیسه ده، ایا تاسو خپل نظر بدل کړی دی؟ ما ظاهر خان ته هغه ملاقاتونه ور په یاد کړل چي ظاهر شاه ما ته ویلي ول چي نه غواړي کوم اجراییه پوست ولري، ځکه د هغه عمر او صحت د دې مسولیت د ادا کولو توان نه لري، بلکي هغه یوازي غواړي چي د «ملت د بابا» نقش ولوبوي. ظاهر شاه په ډیره سړه سینه یو ځل بیا را ته وویل چي هغه کوم مقام نه غواړي، بلکي دا د ده د فامیل غړي دي چي دا ډول اوازې خوروي. ظاهر خان د خپلي کورنۍ دا راز کارونو سخت په غوسه کړی وو، او زما سره ئې وعده وکړه چي د حامد کرزي سره به یو ځای په یوه مطبوعاتي کانفرانس کډون وکړي، او دا مسله به په ډاګه بیان کړي. پدې وخت کي، ما د لویي جرگې له استازو سره وکتل، او هغوی ته مي د ظاهر خان فیصله ابلاغ کړه. او په لنډ وخت کي ټولو دا خبره ومنله (مخ ۱۴۵).

کله چي ظاهر خان مجلس ته راغلی، خلگو هغه په چکچکو بدرگه کړل. هغه د دوو مرستیالانو په مرسته سټېج ته پورته سو، او هلته یې اعلان وکړ چي یوازي د سولي لپاره کار کوي، او د افغانستان استقلال او اتحاد غواړي (مخ ۱۴۶).

په پای کی، که څه هم د ښاغلي خلیلزاد کتاب د افغانستان د سیاسي جریاناتو په اړه نور زیات معلومات هم لري، خو دلته یوازي د بن، لویي جرگې، او ظاهر شاه پر رول باندي تمرکز سوی دی. ځکه دا درې مسلې د افغانانو په مینځ کي خورا جنجالي دي، او ډیرو خلگو د دې موضوعاتو په باره کي څه ویلي او لیکي دي. خو اوس، د صحنې یو اصلي لوبغاړي د خپلو خاطراتو په ترڅ کي دا مسایل ښه واضح کړي دي، او د ډیرو خلگو نظرونه او اتهامات ئې رد کړي دي.

والسلام



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ